دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دشکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

## د اعتراضاتو د وړاندې کول مهال پای ته ورسید

## د انتخاباتو د شکایتونو کمیسیون ۲۶۸ اعتراضونه تر لاسه کړي دي

**کابل، د مۍ ۲۴، ۲۰۰۹-** له هغه ځایه چې د کاندیدانو پر خلاف د اعتراضاتو د ثبتولو موده د مۍ په ۲۳ نېټه پای ته ورسیدله، د انتخاباتو د شکایتونو کمیسیون نن ورځ دا اعلان کړه چې دغه کمیسیون ټول ټال ۲۶۸ اعتراضونه (چیلنجونه) د مۍ د ۱۶ نېټې څخه تر ۲۳ نېټې پورې تر لاسه کړي دي. د دې جملې څخه ۳۷ یې د جمهوري ریاست په انتخاباتو پورې او ۲۳۱ یې د ولایتي شوراګانو د کاندیدانو په اړه دي. د دغو اعتراضونو تفصیل به د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسیون له خوا نشر شي.

کاندیدانو ته به د واردو اعتراضاتو په اړه چې د دوي پر خلاف ثبت شوي دي معلومات ورکړل شي چې ددغو اعتراضاتو په اړه د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون هر ولایتي دفتر او یا هم د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر ته په کابل کې د مۍ تر ۲۹ نېټې د مازدیګر تر ۴ بجو پورې غبرګون وښایې. د مستحقو کاندیدانو لست به د جون په ۱۲ نېټه د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون له خوا وروسته له هغه چې د اعتراضاتو په اړه د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسیون له خوا پریکړه وشي نشرته وسپارل شي.

مولوي محمد مصطفی بارکزی چې د پنځوو کمیشنرانو له جملې څخه یو تن دی وویل: "د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسیون مفتیشینو د واردو چیلنجونو پلټنه پیل کړې ده او د ټولو اړوندو سرچینو څخه به معلومات تر لاسه کوي. موږ به  په جدي توګه د اساسي قانون او د ټولټاکنو د قانون له مخې کار وکړو څو چې د سږ کال د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د انتخاباتو رښتینوالی وساتو."

په داسی حال کې چې د کاندیدانو پر ضد د شکایتونو د درجولو موده پای ته رسیدلی، د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون اضافی شکایتونه نه منی. د ټول ټاکنو د قانون څخه د نورو سرغړونو پر بنسټ شکایتونه به د ټاکنو د پروسی په دوران د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته وړاندي شی.

نن ورځ د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ټولو سیاسی ګوندونو، کاندیدانو او د هغوي استازو ته خبر ورکړیدی چې د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتی د ۱۶ نیټی څخه مخکې هر ډول انتخاباتی کمپاین لکه، د پوسترونو زړول، د جزو او رسالو ویشل او انتخاباتی لاریون په کلکه منع دی. دغه خبرتیا د ټول ټاکنو د کمپاین د طرزالعمل پر بنسټ خپور شویدی چې وایی: کاندیدان یوازی کولای شی د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتی د ۱۶ نیټی څخه بیا د اګست د میاشتی تر ۱۹ نیټی پوری کمپاین وکړی.

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون پر ټولو د کمپاین د موادو د نصبولو مسولو اشخاصو او موسسو باندی غږ کوي چې پرته له ځنډه هغه ټول مواد لیري کړی. که چیری دوي یاد شوي طرزالعمل رعایت نه کړي نو پر دوي باندی به د ټول ټاکنو د کمپاین د طرزالعمل څخه د سرغړونی له امله تعزیرات وضعه شی.

په همدي ډول د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ټولو دولتی کارکوونکو ته خبر ورکړي چې دوي د ټول ټاکنو پر مهال بیطرفه واوسی.

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون پر ټولو برخوالو چې په ټاکنو کې ګډون لري، غږ کوي چې د ټول ټاکنو قانون او د هغه طرزالعملونه تعقیب او رعایت کړي.

## ایډیټورانو ته یادښتونه

- د ټاکنو د شکایتونو د اوریدو کمیسیون پخپله لومړنی غونډه کې چې د ۲۰۰۹ کال د اپریل په ۲۶ نېټه جوړه کړه او همدا اوس د دې مقرراتو او طرز العملونو د تصویب او همدارنګه د ننګونو د طرز العملونو لپاره کار کوي.
- د ټولټاکنو د شکایتونو د اوریدو کمیسیون یوه خپلواکه افغاني موسسه ده. دا به د هیواد په هر ولایت کې سربیره پردې چې په کابل کې مرکزي دفتر لري، یو یو دفتر ولري.
- د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون به د دوو بنسټیزو مسالو مسوولیت ولري: ۱) د نوماندو کاندیدانو په اړه چیلنجونه، ۲) په ټولټاکنو کې د سرغړونو او تخلفاتو په اړه شکایتونه
- د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون دندې او صلاحیتونه د ټولټاکنو د قانون د ۵۲ مادې له مخې ټاکل شوی دي. سرغړوني او تخلفات په ۵۳ ماده کې او تعزیرات په ۵۴ ماده کې راغلي.
- د ټول هیواد په کچه ۲۸۰ د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون کارکوونکي دي. ۱۲ یې نړیوال سلاکاران دي.
- د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون نه جنایي محکمه او نه هم د انتقالي عدالت ارګان دی. دا یوازې د ټولټاکنو د چارو سره چې په هغو کې نوموړی کمیسیون له سرغړونو او تیروتنو سره چې د ټول ټاکنو او د افغانستان په اساسي قوانینو کې تشخیص شوي، سرو کار لري.
- د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون انټرنټ پاڼې نښه : www.ecc.org.af